مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۴/۰۱/۱۹

ماشومانو ته د کیسه ویلو/ لوستلو ګټې

ماشومانو ته د کیسو لوستل/ویل اروایي، ټولنیزې او تعلیمي ګټې لري.

اروایي ګټې:

د کیسو ویل یا لوستل د ماشوم د تخیل له ودې سره مرسته کوي. تخیل انسان ته دا وړتیا وربخښي چې د نورو پر ځای فکر وکړي، د نورو ستونزه، غم او درد درک کړي او له نورو سره خواخوږي پیدا کړي. کله چې انسان له نورو سره خواخوږي پیدا کړي بیا د نورو حق پېژني، له نورو سره په مینه چلند کوي او د نورو ځوروولو ته نه هوسیږي. په دې توګه د ټولنې نظم خوندي کیږي.

ماشوم له کیسو زده کوي چې خپل احساسات څنګه بیان کړي. دا کار ماشوم له اروایي فشاره خلاصوي. همدارنګه کیسې په ماشوم کې پرځان باور زیاتوي او په ماشوم کې دا وړتیا پیدا کوي چې خپلې ستونزې پخپله حل کړي.

کله چې مور یا پلار ماشوم ته کیسه لولي، له هغه سره د ماشوم عاطفي تړاو زیاتیږي. کله چې مور، پلار، نیا یا نیکه ماشوم په خوا پورې نیسي، یا یې په غېږ کې کېنوي او کیسه ورته لولي/وایي، ماشوم احساس کوي چې ارزښت لري، احساس کوي چې لویان ورسره مینه کوي او دی ورته ارزښتمن دی. له دې سره د حقارت یا کمترۍ هغه احساس چې په طبیعي ډول له هر ماشوم سره وي، ځپل کیږي او ماشوم له لویانو سره د برابرۍ احساس کوي. دا شی په لوېنه کې د حقارت د عقدې د پیدا کېدو مخه نیسي.

ځینې ماشومان د شپې له خوا ډارپږي خو که کیسه ورته ولوستل/وویل شي، وېره یې ختمیږي او د ارامۍ احساس کوي. د اتلولۍ کیسې، د ماشوم په روح کې د مبارزې او بریا ته د رسېدو حس ژوندی کوي. کله کله ماشومان د کیسو له کرکټرونو څخه خپل ایډیال شخصیت غوره کوي او هڅه کوي چې هماغسې کس شي.

ټولنیزې ګټې:

مخکې مو وویل چې د کیسو لوستل/ ویل، د ماشوم تخیل ته ګټه رسوي. د تخیل کمال دا دی چې انسان نور درک کولای شي او د بل درد خپل درد ګڼي، نو هغه کسان چې د بل احساسات درک کولای شي، د بل په درد دردېږي او نورو ته زیان نه رسوي. دې سره ټولنه سمېږي.

کله چې ماشومانو ته د نورو ملتونو کیسې لولو/وایو، ماشومان په دې حقیقت پوهیږي چې دنیا یوزای زمور لپاره نه ده، بلکې د خدای ډېر نور مخلوقات هم په کې اوسېږي. دا د ماشوم لېد پراخوي او په دې یې پوهوي چې په دنیا کې نور انسانان هم شته خو له مختلفو باورنو، دودونو او متفاوت ژوند سره. دا په ماشوم کې تعصب ختموي او د بل منلو ته یې چمتو کوي. دغه ټولنیز زغم، خصوصاً زمور د وګړو لپاره خورا اړین دی ځکه چې زمور په هېواد کې ګڼ قومونه اوسېږي او باید ټول سره وزغمي. همدارنګه مور په داسې نړۍ کې اوسېږو چې خورا مختلف انسانان په کې ژوند کوي او باید چې له ټولو ملتونو سره په سوله او ملګرتیا کې واوسېږو. دا د هر متمدن انسان ځانګړنه ده چې نور وزغمي او د نورو حقونه په رسمیت وپېژني.

ماشوم له کیسو زده کوي چې څنګه ملګرتیا وکړي، څنګه له نورو سره مرسته وکړي، څنګه نور له ستونزه راوژغوري او څرنګه د ټولنې یو مثبت او ګټور کس شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تعليمي ګټې:

ماشومانو ته د کيسو بله ګټه دا ده چې د ژبې مهارتونه ورسره زده کوي. د تورو او کلمو سم تلفظ، د جملو جوړښت او ګرامري خصوصيات پېژني. کله چې ماشوم د کيسو کتاب ته ګوري، سترګې يې د کلمو له شکل (املا) سره اشنا کېږي او بيا د ښوونځي په دوره کې ليک لوست په اسانه زده کولای شي. ماشوم له کيسو څخه نوې کلمې او د مختلفو شيانو نومونه زده کوي او په دې ترتيب د لغاتو زېرمه يې پراخېږي. د لغاتو زېرمه د ماشوم له ذهني ودې سره نېغ په نېغه اړيکه لري. څومره چې د ماشوم ډېرې کلمې زده وي، هماغومره ژر نوې مفاهيم زده کولای شي.

په ځينو کيسو کې عددونه ياد شوي وي مثلاً دوه هلکان، دري وزې، اووه ونې ... دغه کيسې ماشومان د رياضي او حساب له مفاهيمو سره اشنا کوي. د ماشومانو لپاره کتابونه معمولاً رنګه تصويرنه لري. د تصويرونو په ليدو سره ماشوم پخپله له شکلونو، حجمونو او رنګونو سره اشنا کېږي. ماشوم له دې کتابونو د غټ او وړ، لوړ او ژور، دنګ او ټيټ، نرۍ او پلن، لرې او نږدې په توپير پوهېږي. د مختلفو شکلونو ليدل، ماشوم ته د هندسې ابتدايي درسونه اسانوي. مختلف رنګونه په ارواييِ لحاظ متفاوتې اغېزې لري. ماشوم چې څومره ډېر رنګونه وپېژني، هماغومره يې ذهني وده ډېرېږي.

د ساينس فيکشن کيسې ماشومان له ځينو ساينسي مفاهيمو سره اشنا کوي او د ساينس په اهميت يې پوهوي. عاطفي کيسې د دوی مثبت عواطف پياوړي کوي.

کله چې ماشوم ته کيسه لولو/ وايو، ماشوم د کيسې د پېښو او کرکټرونو په اړه رانه پوښتنې کوي. دا د ماشوم د کنجکاوۍ او پلټنې حس پياوړی کوي. ماشوم د پېښو په اړه تبصره کوي، وايي که داسې شوی وای، ولې هاغسې وشول، پلانکې ولې داسې وکړل ... دغه تبصرې د ماشوم فکر، منطق او استدلال روزي.

د طبيعت او چاپېريال په اړه کيسې، ماشوم ته دا پيغام ورکوي چې خپل چاپېريال بايد پاک وساتي، له ژوو، بوټو، اوبو او هوا سره سم وچلېږي او له طبيعت سره مينه پيدا کړي.

د ماشومانو په اکثرو کيسو کې مثبت کرکټرونه بريالي کېږي نو دوی ته د خير ښېګڼې او ښه کولو درس ورکوي.
د کيسو کتابونه په زړه پورې وي نو کله چې ماشوم ته کيسه لولو، له کتاب سره يې مينه پيدا کېږي، له مطالعې سره علاقه پيدا کوي او مطالعه ورته په يو مهم ارزښت بدلېږي.

ماشومانو ته له کوم عمره د کيسو لوستل پيل کړو؟

ځيني پوهان وايي چې ماشوم ان د مور په نس کې د مور آواز او د زړه درزا احساسوي. ځيني مينډۍ د مينډوارۍ له وخته له خپل بچي سره خواله کوي او کيسه ورته وايي. نوزېږي ماشومان د مور او پلار غږ پېژني او له اورېدو سره يې د خوندیتوب او ارامۍ احساس کوي نو بهتره ده چې مينډۍ خپلو ماشومانو ته د زوکړې له هماغه لومړيو ورځو د کيسو ويل/لوستل پيل کړي.

د عمر په لومړيو درېو کلونو کې د ماشوم د ماغزو وده ډېره چټکه وي او وروسته بيا دغه وده وار په وار سره کمېږي. که په همدې عمر کې له ماشوم سره ډېرې خبرې وشي او ډېرې کيسې ورته ولوستل/وويل شي، ذهني وده يې لا زياتېږي.

دا حتمي نه ده چې ماشوم ته هره ورځ يوه نوې کيسه پيدا کړئ. ماشومان له تکراري کيسو هم پوره خوند اخلي، بلکې د کيسې تکرار د هغوی د حافظې له ودې سره مرسته کوي.

د کيسو د ويلو لپاره کوم وخت مناسب دی؟

نوزېږيو او تی خورو ماشومانو ته هر کله چې دوی ويښ وي او مور/ پلار وزګار، بايد کيسه وويل شي. نسبتاً لويو ماشومانو ته بيا شپه، کله چې ماشوم ويده کېږي، د کيسې د لوستلو/ ويلو لپاره غوره وخت دی. له دې سره ماشوم د ورځې جنجالونه هېروي، د خوندیتوب احساس کوي او خوب يې ارام وي. کېدای شي ماشوم هماغه کيسه چې ورته لوستل شوي ده، په خوب کې هم وويني.

نن سبا په اکثره کورنيو کې خلک د شپې تر ناوخته ټلويزيون ته ناست وي. ماشوم به ويده شوی وي او يا به له دوی سره ټلويزيون ګوري. دا کار ناسم دی. د ماشومانو لپاره بايد د خوب وخت، معلوم وي. ماشومان تر لويانو نسبتاً زيات

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خوب ته اړتيا لري نو بايد کورنۍ ماشومان د شپې په نهو بجو ويده کړي. مور يا پلار بايد ټلويزيون پرېږدي او د ماشوم په څنګ کې ځملي، ورته کيسه ولولي/ ووايي او ماشوم ويده کړي.

څه ډول کيسې؟

کيسې بايد د ماشوم له عمر او ذوق سره سمې انتخاب شي. همدارنګه هغه کيسې بايد خپلو ماشومانو ته غوره کړو چې د خوند تر څنګ اخلاقي پيغام ولري او عالي انساني ارزښتونه په کې رانغښتي وي. مثلاً د ملګرتيا، خواخوږۍ، همکارۍ، له ژوو بوټو او انسانانو سره مينه، پاکي او صفايي، صداقت، خير رسول، له نورو سره مرسته ... او داسې نور ارزښتونه په کې راغلي وي. کيسې بايد ماشوم په داسې روحيه وروزي چې کرکه، تعصب، تبعيض، تربګني، دښمني او نور منفي عواطف او احساسات په کې نه وي. مثلاً داسې کيسې انتخاب شي چې په کې هلکان او نجونې دواړه مثبت نقشونه ولري. هغه کيسې چې بوډۍ په کې جادوګره وي، ممکن ماشومانو ته دا ذهنيت ورکړي چې هره بوډۍ مضره ده.

ډاروونکي کيسې، د ماشومانو لپاره ښې نه دي. ماشومان اکثره وخت د کيسو کرکټرونه حقيقي ګڼي. که چېرې په کيسه کې ډاروونکی کرکټر وي، ماشوم چې يوازې شي ډارېږي چې اوس به هماغه ډاروونکی شی راپيدا شي.

وړو ماشومانو ته نسبتاً لنډې کيسې غوره کړئ ځکه چې که کيسه اوږده وي، ممکن د دوی ذهن مغشوش کړي او د کيسې په پای کې پيل يې ځنې هېر شي. همدارنګه کرکټرونه بايد په کې دومره زيات نه وي چې له ماشوم څخه ګډوډ شي. دري – څلور کلن ماشومان بيا نسبتاً اوږدې کيسې غواړي او په لنډکی کيسه يې تنده نه ماتېږي. هغه کيسې چې سجعې او آهنګيني کلمې يا يو نيم شعر ولري، ماشومانو ته زيات خوند ورکوي.

د ښې په لحاظ د ماشومانو کتابونه مختلف وي. د نوزېږيو او تي خورو ماشومانو لپاره له ټوکر څخه جوړ کتابونه وي چې رنګه تصويرونه او يوه نيمه کلمه ورباندې کښل شوي وي. دا کتابونه ماشوم نه ژوبلوي، مېنځل کېږي او رنګونه يې پاخه وي يانې که ماشوم کتاب په خوله کې هم ووهي، رنګ يې نه ځي او ماشوم ته تاوان نه رسوي.

دوه – دري کلن ماشومان د کتابونو له څيرلو سره جوړ وي نو د دې عمر ماشومانو ته داسې کتابونه په کار وي چې څيرېږي نه. له پېړ کارډ څخه جوړ کتابونه همداسې دي.

کله چې ماشوم نور هم لوی او په خبره پوی شو، عادي کتابونه ورته اخيستلی شو. خو د هر عمر ماشوم لپاره په کار ده چې کتابونه رنګه وي، ښکلي تصويرونه ولري او د خط اندازه يې غټه وي.

ماشومانو ته د خپل ماشومتوب د وخت خاطري ووايئ. خاطري هم د کيسو هومره خوندوري او ګټوري وي. ستاسو د ماشومتوب وخت بل و او اولادونه مو په بل وخت کې ماشومان دي. ستاسو خاطري دوی له تېر سره اشنا کوي او لېد يې پراخوي.

کيسه بايد څنګه ولوستل/ وويل شي؟

کله چې ماشومانو ته کيسه لولو/ وايو، بايد د کلماتو سم تلفظ ته پام وکړو. جملې پوره ولولو او په منځ کې يې نيمه نه کړو. ساه اخيستل مو بايد د متن له لوستو سره برابر کړو. کله چې په جمله کې کامه راځي، لنډه دمه او چې ټکی راځي، نسبتاً زياته دمه وکړو. د جملو له مفهوم سره سم بايد د خپل غږ ټون عيار کړو، مثلاً کله چې د خوښۍ او هيجان خبره وي، هماغسې په هيجان سره جمله ولولو او کله چې د خواشينۍ خبره وي، غږ مو بايد ټيټ او خواشينی شي. همدارنګه بايد هڅه وکړو چې د مختلفو کرکټرونو لپاره مختلف غږونه وباسو، مثلاً که په کيسه کې پلار خبرې کوي، ښه به وي چې غږ مو ډډ کړو، که نجلۍ غږېږي، بايد غږ نرۍ کړو. سوالیه جملې بايد د پوښتنې په انداز او بيانې جملې په عادي انداز ادا کړو. که مو د ازادۍ راډيو له لارې، د اغلې فريدې هوډ سيفي په غږ کيسې اورېدلې وي، هڅه وکړئ چې کيسه هماغسې ولولئ.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ